دنوي لمريز (۱۳۷۰) کال رادبره کيدل دګران هيواد د آزادۍ او اسلامي حکومت دټينګښت په دعا بختورغواړو!

PROPERTY OF ACKU

هفته نامه
دجهاد هنداره
مـــراة الجـــهاد
ګومړی کال ، (۲۸) ګڼه ، يکشنبه د (۱۳۷۰) هـ ش کال دحمل (٤)

دځاځـي ميـدان ولسوالۍ فتحه شـوه

ميرانشاه دحمل ۳
په هغو نويو خبرونو کي چي په پکتيا کي دالحاج مولوي جلال الدين حقاني له جبهاتو دجهاد هنداري اداري ته رارسيدلي ويل شويدي چي دخوست دعملياتو دچټکتيا اوپراختيا په جريان کي دځاځي ميدان ولسوالي مجاهدينو فتحه کړي اوزيات شمير مهمات اووسلي يي په غنيمت نيولي دي .
په خبرونو کي ويل شوي چي دځاځي ميدان فتحه دخوست دبشپړي فتحي په لوريو ستر اودروند ګام دي

امريکا عراق مجبوروي چي دجګـړي خساره ورکـړي

په څلورم مخ

الحاج مولوي جلال الدين حقاني د«جهاد هنداري» له خبريال سره په مرکه کي:

دقوماندانانو دسرتاسري شورا په فعاليدو دجهاد صفونه ترډيره منظم شوي اوپر دښمن دګډو اوسترو حملو لاري چاري اواري شويدي

۲ مخ

پرخوست دبرياليو عملياتو شيبه په شيبه رپوټ:

دخوست زورهوايي ډګر اودکوکرک سوق الجيشي پوسته فتحه شوه

دباک اويعقوبيوعلاقه داري اودشااوخواپوستي فتحه شوي

دوه هليکوپترغورځول شويدي

دماتي خوړلي دښمن له سنګرونو څخه د پوځيانو اومليشاوو دتيښتي لړۍ روانه ده

دخوست ښارڅخه دکډوالو بهيرروان دی

دپکتيا ولايت دخوست دمجاهدينو دقوماندانانو دګډ طرحه شوي پلان له مخي دخوست پرکلابند ښارکي ددښمن پرپوځي مرکزونو اوامنيتي کمربندونودټولو جهادي ځواکونو ګډ عمليات چي مرکزيي دالحاج مولانا جلال الدين حقاني په يو جهادي مرکز کي دي د۱۳۶۹ هـ ش کال دحوت دمياشتي په ۲۳ نيټه پيل شول .
عمليات له څلورو خواوو څخه دمازديګر په څلورنيمو بجو دتوپچي اوزغروالو وسايطو دډزو په وسيله شروع شول ، چي په نتيجه کي په هوايي ډګرکي درادارډستګاه تخريب اودراديو استيشن وداني ړنګه شوه .
دعملياتو په دوهمه ورځ يعني دحوت په ٢٤مه نيټه دمجاهدينو ددرنو وسلو دډزو په وسيله دپروژي ترڅنګ عمومي ذخيري اورواخيست .
دعملياتو په دريمه ورځ دحوت په ۲۵ مه نيټه دمليزي اوميرخانکي په شمول ددښمن پنځه پوستي فتحه شوي اودهمدغه ورځي دماسپښين په دري بجو اوپنځه څلويښت دقيقو ددښمن هغه دوه هليکوپترالوتکي چي دمجاهدينو پرليکو يي بمباري کوله دتوغنديو په ذريعه راوغورځول شوي ، ددغو عملياتو په جريان کي ددښمن له قواو څخه (۱۶) تنه عسکر اوصاحب منصب وژل شول ، دوه موټر تخريب اويو زرهپوش چي

په څلورم مخ

دکويټ دبياودانولو لپاره په تاريخ کي ترټولو ګران قيمته پلان

کويټ دحوت۲٥ مه :
دکويټ دبياودانولو لپاره دنړيوال تاريخ ترټولو لوړقيمته پلان دپه اجاري، اخيستلو لپاره دلوديز دمشهورو کمپنيو ترمنځ درقابت لړی پيل شوی دی .
دکويټ دغه دبياودانولو پروګرام به هم دنيسبتي طوفان دعملياتو په څيرپه ډير سرعت سره پيل شي .
دکويټ دژرترژره بياودانولو پروګرام مشر ابراهيم الشاهين دڅلويست تنو کويټي انجينرانو سره دغه ۹ مياشتني پروګرام ته دحتمي اواخري شکل ورکولو په کاربوخت دی .
نوموړی په يوه مرکه کی وويل چی ددغه پروګرام لومړی قدم به دخوراکی موادو ، اوبو ، اوصفايي دمهمو اوبنيادی تکو دپوره کولو په شکل واخيستل شي .
ده داهم زياته کړی چی دبيا ودانولو پروګرام له ۷۰ فيصده څخه زياته برخه به امريکني مشهورو کمپنيو ته ورکړل شي .

په ننګرهار کی (۱۰) تنه مجاهدين شهيدان شول

دننګرهار ولايت څخه (ميډيا) ته په يورسيدلي رپوټ کی ويل شوی دی چی دننګرهار ولايت دسرخرود ولسوالی د(کشکك) په سيمه کی په سرك باندی دکابل رژيم دخاد دپټمی شبکی دجاسوسانو لخوا دحوت په (۲۵) نيټه دمجاهدينو په يو داټسن موټر کی ديوځای پرځای شوی بم دچاودنی له امله (۱۰) تنه مجاهدين شهيدان يوتن ټپی او موټر تخريب شويدی .
رپوټ وايی ټپی مجاهد دعلاج لپاره دپيښور يوه روغتون ته منتقل شويدی .

عراق پذيرفت که کويت جز عراق نيست

پارلمان عراق رسما تصويب نمود که کويت ديگر جز عراق نميباشد عراق درماه اګست ګذشته پنج روز بعد از اشغال کويت انرا جز خاك عراق و ولايت نزدهم اعلام نموده .
اين يکی ازشروط ملل متحد بخاطر دايمی ساختن اتش بس ميان قوای عراق ومتحدين بود .
طبق يك خبر ديګر کويت جز اير بوبيان ودربارا که ازجمله ده جزيره طرف منازعه عراق وکويت ميباشد دراختيار قوای امريکا وانګلستان قرار داده است تادرانجا پايګاه نظامی اعمار نمايد .
براساس خبر منابع مطبوعاتی جزيره بوبيان ګنجايش قوای پنجاه هزار نفری باتمام امکانات وتامينان معيشتی ورزمی را دارا ميباشد جز ايرمذکور دربخش انتهای خليج قرار دارد .

سرمقاله

خوست د بشپړي فتحي په درشل کي

پرخوست دمجاهدينو ګډ اويو مخيز دراندده عمليات روان دی دخدای (ج) په نصرت اودحق دلاری دسربندونکو دقهرمانيو اوقربانيو له برکته په دغه لږوخت کی دمجاهدينو داسی ستری فتحی په برخه شوی چی دخوست بشپړه فتحه اودکابل دمزدوررژيم دحتمی شکست اوبشپړ سقوط لاره يی لنډه اواواره کړيده .
پرخوست موجوده يومخيز اوګډ عمليات له څواړخونو څخه ځانګړی حيثيت لری .
يوداچی داعمليات دمجاهدينو دګډ ی اومتحدی ستراتيژی له مخی په لاره اچول شوی اومختلف اړخونه يی په خورا دقيقه اوژوره توګه سنجول شويدی اوبله داچی دمجاهدينو موجوده جنګی تاکتيکونه دهمداسی يوی واحدی ستراتيژی په رڼاکی تاکل شوی چی په بشپړه توګه يی دجهادی ليکو اوصفونو کامل

په ٤ مخ

مجاهدينو په کندزکي د رژيم پرنظامي اهدافو حمله وکړه

دکندز ولايت نه (ميډيا) ته په رسيدلی يورپوټ کی ويل شوی چی : مجاهدينو دحوت په (۲۳) نيټه دشيرخان بندر پر پوستوبريد وکړ چی دهغی په نتيجه کی دکمونست رژيم اته تنه پلويان مړه او څلورتنه نور يی دوسلو سره نيول شوی اوهم دښمن ته درانده مالی تاوانونه ورپه برخه شويدی .
رپوټ زياتوی چی پدی جګړه کی دمجاهدينوڅخه يوتن ټپی شويدی

دمزدوررژيم پرمورچلونو دمجاهدينو راکټی حملی

دکابل څخه دقوماندانانو شورا ته په رارسيدلو رپوټونو کی ويل شوی چی قهرمانو مجاهدينو دحوت په ١٦ نيټه دقلعه حکيم پرپوستی حمله وکړه اوله دی امله يی ١٤ تنه عسکراومنصبداران وژلی اودمهماتو يوه ډيپو يی سوځولی ده پدی جګړه کی پنځه تنه مجاهدين شهيدان اويو تن زخمی شويدی .

يوه روسی ځوان يوه الوتکه تباه کړه

دنړيوالو رپوټونوله مخی يوه ناراضی روسی ځوان دلينينګراد په هوايی ډګر کی يوه مسافر وړونکی روسی الوتکه دسپرليو سره يرغمل نيولی وه اودالوتکی پيلوټ يی دی ته مجبوروه چی دسويډن خواته لاړشی رپوټ وايی
دروسيی امنيتی ځواکونو وکولی شول چی سپرليو ته نجات ورکړی خوپه وروستيو شيبو کی نوموړی ځوان الوتکه دبم پواسطه وچاودوله اواوريی واخست چی په دی پيښه کی پخپله هم له منځه لاړ.

دجهادهنداري جريده دخوست دجهادي خبرونو دژرترژره خپرولو په منظورپه موقتي توګه په اونۍ کي دوه ځله خپريږي .
ګران لوستونکي دې خبروي

مجاهدين بايد په دي حساس وخت کي چي زموږ اسلامي انقلاب دبري پولي ته نږدې شوي خپل منځي وحدت ته زياته پاملرنه وکړي اوددښمن په دسيسو تيرنه وځي «الحاج حقاني»

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

نوی کال دنویو بریو زیری

پداسې حال کې چې دافغانستان مجاهد ملت دروسانو دلاس کینولې رژیم په مقابل کې دهیودا په گوټ گوټ کې دپراخو عملیاتو ترتیبات نیولی اوپه ډیرو سیمو کې داعملیات په بري سره پرمخ روان دي نو د ۱۳۷۰ نوی لمریزکال هم رادبره شو.

داکال دنووفتحو ، نوو بریو اونووهیلو سره جوخت پیل شو ، که له یوې خوا دبادغیس په ولایت کې داب کمرې ولسوالی اوددښمن غونډ فتحه کیږي اویا په هرات کې ددښمن دپوستو دفتحې رپوټونه راځي له بلې خوا هم دخوست کفرځپونکې جگړه دمجاهدینو دهمت اوارادو له برکته هره ورځ دنوو فتحو زیری راوړي ، انشاالله په ډیرو نږدې وختونو کې به په خپلو غوږونو واورو چې دخوست ښارپه بشپړه توگه دمجاهدینو په لاس فتحه شواوددې ترڅنگ به دکابل دگوډاگي رژیم ماته اوپه هیواد کې دمجاهدینو په لاس دیوه اسلامي دولت جوړیدل حتمي وي .

هو ! همدغسې چې دپسرلي موسم ټولو ساکښوته نوی روح اوتازه هوا وربښي ، همدغه شان دمجاهدینو وروستیو بریالیتوبونو دټول افغان مسلمان ولس په روح کې نوې ساورپوکړه .

پورتنیو عملیاتوداوښودله چې که افغانان په یوه اتحاد اواتفاق سره خپل مجاهدت اوقربانیو ته اوږه ورکړي بې له شکه نه یواځې داچې دنجیب لاسپوڅې رژیم به ژرترژره نسکور کړي،بلکې دهغوی دبادارانو اونورو کفري ځواکونو په برجونو کې به زلزلې گډې کړي .

له همدې لارې کولی شو چې دخپلو څه دپاسه یو نیم ملیون مجاهدو شهیدانو دوینې توئیدلو غچ واخلو اوهم به کړیدلي ، ربړیدلي اودردیدلي افغانان چې ددیارلسو کلونو په موده کې یې دکمونستي رژیم ټولې ناخوالې په سره سینه زغملي دي په یوه اسلامي ټولنه کې داسلامي دولت تربیرغ لاندې دسولې اوامن نوی ژوند له سره پیل کړي .

۱۳۷۰ کال پداسې وخت کی پیل شو چې دمجاهدینو خوځښت ، مقاومت اوسرښندنې ترپخوا زیات محسوسیږي اوتریوه حده په ټول هیواد کې دیووالي اتحاد اوتفاق غږونه اوچت شویدي چې دغازیانو دغه خوځښت اسلامي امت ته دنوي بري اونصرت زیری ورکوي .

نوی کال په داسې وخت کې رادبره کیږي چې ټولو نړیوالو راډیوگانو اوخبري منابعو چې ترپرونه پورې یې دمجاهدینو دبې اتفاقۍ اوځانځانۍ ډنډورې غږولې اوس یې دفتحې اوبریالیتوبونو رپوټونه خپروي .

که چیرې جهادي قیادتونه خپلو مسوولیتونو ته متوجه شي اوپداسې یوه حساسه او ټاکونکې مرحله کې دهیواد په گوټ گوټ کې دگوندي کشمکشونو اونورو خودسریو څخه مخنیوی وکړي نو افغانان به حتماً خپل سپیڅلی ارمان ترلاسه کوي اوداکال به دافغانانو دبشپړبري وروستی کال وي .

نوراځئ چې دقیادتونو دتعدد ، گوندي کشمکشونو اوگډوډیو څخه ځان وژغورو اودیوه واحد قیادت ترسیوري لاندې په یوه قومانده دملحدینو ماته لانوره هم حتمي کړو .

دقوماندانانو دسرتاسري شورا په فعالیدو دجهاد صفونه ترډیره منظم شوي اوپردښمن دگډواوسترو حملولارې چارې اوارې شویدي

پوښتنه : – محترم حقانی صاحب دکابل دمزدوررژیم دژرنسکوریدو په هکله ستاسی طرحه څه ده ؟

ځواب :– بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

زما په فکر دروسانو دمزدوررژیم دژرنسکوریدو لپاره ډیره مؤثره طریقه دمجاهدینو خپل منځی یووالی اووحدت دی ځکه چې دهمدغه وحدت په وسیله به مجاهدینو کې بشپړ نظم اوقوت پیداشی که چیری مجاهدینو اتحاد اواتفاق درلودې دکابل کمونست رژیم به لادروسانو له وتلو سره سم له منځه تللی وای .

اوس چې دافغانستان دقوماندانانو سرتاسری شورا جوړه شوی ده ، ددغی شورا ستراومهم اهداف دمجاهدینو ترمنځ اتحاد اویووالي او په مجاهدینو کې دنظم راوستل اوپر یو وخت پردښمن باندی عملیات سرته رسول دی انشاالله په دغه حرکت سره به دروسانو مزدوررژیم په ډیرکم وخت کې سقوط وکړی.

پوښتنه :– داسی اوازی خپرې دی چې دنجیب مزدوررژیم دقندهار ښارخالی کوی ، ترڅو هلته یوه لویه جرگه جوړه شی اویا دلویې جرگې په وسیله دافغانستان دراتلونکې حکومت لپاره زعامت وټاکې ، تاسی په دی باره کې څه نظر لری ؟

ځواب :– نجیب دمخه هم دروسانو په دستور اوقومانده دی ته ورته پروگرامونه رامخی ته کړی دی ، داچی

> **دروسانو هدف دادی ترڅو خپل گوډاگیان (خلقیان اوپرچمیان) له پوښتنې اومحاسبې څخه وژغوري**

ولی اوڅنگه عملی نه شول بیل عوامل لری ، ددی ټولو پروگرامونو نه دروسانو هدف دادی چې ترڅو خپل گوډاگیان (خلقیان اوپرچمیان) له پوښتنی اومحاسبی څخه وژغوری دخپل ملحد گوند اوډلی تپلی موجودیت په افغانستان کې خوندی وساتي .

خوزه داویلی شم که داډول پروگرامونه عملی هم شی اودهغو په نتیجه کې کوم حکومت اوزعامت رامنځ ته هم شی دافغانستان مجاهد ملت ته په هیڅ شان دمنلو وړنشی گرځیدلی او پرضد به یې ترهغه پوری وسله وال جهاد جاری وی ترڅو چې په افغانستان کې یو سوچه اسلامی حکومت منځ ته نه وی راغلی .

پوښتنه :– دمجاهدینو اوسنی سیاسی اونظامی وضعه څه ډول ارزیابی کوی؟

ځواب :– له کله نه چې دمجاهدینو په مشرانو کې ځان غوښتنی رامنځ ته شوی ، دهغی له امله دمجاهدینو په سیاسی وضعه کې څه ناڅه نیمگړتیاوی رامخی ته شوی دی ، په دی دومره موده کې دمجاهدینو مشرانو ونشو کولی چې پخپل منځ کې واقعی اتحاد وکړی ، نودغو بی اتفاقیو دجهاد اومجاهدینو سیاسی حالت پوره زیانمن کړی دی ، موږ الله (ج) ته سوال کوو چې زموږمشرانو ته داتحاد توفیق ورپه برخه کړی که دمجاهدینو مشران سره متحد شی بیانو دسیاسی وضعې دکمزوری پوښتنه نه رامنځ ته کیږی .

ترکومه چې خبره په نظامی حالت پوری اړه لری ، دقوماندانانو دشورا په رامنځ ته کیدو سره دجهاد صفونه ترډیره حده منظم شوی اوپردښمن باندی دگډو اوسرتاسری حملوکولو لاری چاری هواری شوی دی چې دخوست اوسنی جگړه زموږددی ادعا ډیرښه ثبوت دی سره له دی چې ځینو جهادي مشرانو خپل ځینی قوماندانان دی ته هڅولی چې پدغو عملیاتو کې برخه وانخلی ترڅو داجگړه له ناکامی سره مخامخ شی ولی له دغه وړهلو ځلو سره سره ټول جهادی قوتونه په دغه پروگرام کې برخه اخلی ، اوانشاالله چې فتحه به مو په نصیب شی .

په عامه توگه په دی وروستیو وختو کې

په دریم مخ

موږ په افغانستان کې څه ولیدل ؟

په تیرپسي :

په افغانستان کې دنیول شوو روسي عسکرو خاطرې

دمسلم ژباړه

سلیمانوف » ته دروزنی په دوران کی داسی نوټونه ورکول کیدل چی په هغوی کی به یی دافغانستان پرمظلوم ولس دبهرنیوپوځونو ظلمونه غندل په له درده ډکه لهجه به یی ددروغو صحنی جوړولی اوویل به یی چی زموږ پرمظلومو دوستانو ، امریکایی ، چینی اوپاکستانی پوځیان ظلمونه کوی ترزده کړی لاندی ځوانانوته به ویل کیدل چی دیوه غټ قدرت اوطاقت په توگه دروسیی دخلکو دابین المللی مسئولیت دی چی هغه دخپلو گاونډیو خلکو سره مرسته وکړی اودهغوی دازادی دښمنان وځپی ، ډیر هغه ځوانان چی دحالاتو به خبر نه و ددی خبرو څخه متأثر کیدل ، خوپر « سلیمانوف گاجی مراد » دی ددروغو پروپاگند څه اثر نه کاوه ، دی هلته دیوه صاحب منصب سره ملگری شو ، چی هغه دافغانستان له اصلی حالاتو ښه خبرو ، هغه په تفصیل سره ده ته څه نه ؤ ویلی،خودومره یی ورته ویلی ؤ چی افغانستان ته تگ ښه کارنه دی ، هغه دسلیمانوف سره ژمنه کړی وه چی افغانستان ته دتگ څخه به یی بچ کوی ، دروزنی ددوران په ختمیدو سره همدی صاحب منصب ده ته په « لاجستك » کی دنده پیداکړه څه وخت وروسته دده ملگری صاحب منصب ماسکو ته ولاړه ، سلیمانوف تردی وروسته دخپلی شعبی له مسول صاحب منصب څخه وغوښتل چی ما «فرغانه » ته تبدیل کړی ، هغه دده داغوښتنه ومنله خوهلته ددوو میاشتو ترپوره کولو وروسته ناڅاپی دی دنورو (۸۰) پوځیانو سره افغانستان ته ولیږه .

داد (۱۹۸۱) کال دډسمبر د (۲۱) سورسهارؤ چی یوی پوځی ترانسپورتی الوتکی د« فرغانه » څخه راسپلوه کړای شوی پوځیان دبگرام په هوایی ډگر کی کوز کړل ، په هوایی ډگر کی ددریو ورځو ترتیریدلو وروسته هغوی د« بامیان » ولایت ته ولیږل شول ، په بامیان کی « سلیمانوف » ته دنده وروسپارل شوه ، دلته هغه پنځه میاشتی تیری کړی ، په دی دوران کی هغه دری ځلی دمجاهدینو پرخلاف عملیاتو کی برخه واخیسته ، خوپو ځل یی هم دزړه نه عملیاتو کی خپل کارپرمخ یونوړه ، دلومړی ځل لپاره هغه یوه شپه دبامیان څخه لس کیلو متره لری یو ه کلی ته چی مجاهدین پکی ځای پرځای ؤ ، دعملیاتو لپاره ولیږل شو ددریو ساعتو پلی مزل وروسته دروسی پوځیانو داټولی دسهار شپږبجی دکلی غرونو ته ورسید ، دپوځیانو شمیر د (۲۰۰) په شاوخوا کی ؤ ، په اوویجو قوماندان پرکلی دډزو کولو امرورکړ، ځنی کمزوری خلك خو دلومړی حملی ښکارشول

نوربیا

په تیرپسې :

په افغانستان کې دکې جي بي ورانوونکي فعالیتونه

داکسا- کام - خاد - واد ، تشکیلات ، فعالیتونه اوجنایات

عبدالوکیل

دایو څرګند حقیقت ؤ اودی چې که څوك ډیر کم هم دګوموړو ډلو دحالت څخه خبرتیا ولري نو په دې کې به تردید ونلري چې دذکر شویو ډلو په نظر روسانو ته جاسوسي یوعالي اومترقي عمل ګڼل کیږي اوورسره مخالفت اویا دهرهغه ډول اړیکو ټینګولو څخه چې روسان یې غوښتونکو دي ، دډه کولو ته یو ارتجاعي عمل وایي.

دغو ډلو ته دانده مطرح چې روسانو ته جاسوسي کول نه یواځې داچې داسلام ، وطن ، ناموس ، پت اوعزت سوداګري ده بلکې دنوموړو دوو ډلو (خلق اوپرچم) رقابت تردې دمه پورې هم په دې ټکي دی چې نسبت بلې ډلې ته په روسانو ځانونه ومني اولوړمقامونه ورته وسپاري اوهره ډله اوړې ورنږدې کوي ، اشارې ورته کوي دلایل ورته راوړي اوحتیٰ بغاوتونه کوي خو « کی ، جی ، بی » ته داثابتوي چې دبلې ډلې په نسبت ښه باوړلی شي. اصلي مطلب داندی چې دلته داثابته شي چې خلقیان اوپرچمیان د« کی ، جی ، بی » جاسوسان دي اوهرڅه یې دروسانو په دستور ترسره کړل اوکوي یې دامطلب دوی پخپله هم نه ردوي اودخپلې تګ لارې سره یې تړلی بولي بلکې هدف دادی چې ددغو پیښو اوتجربو څخه باید اوسنی اوراتلونکی نسل ګټه واخلي اوداتریخ درس په راتلونکي ټولنیزه تګ لاره کې مثبت رول ولوبولی شي اوددغو اسلام ، وطن انسانیت اوعزت تباه کوونکو کړو وړو له تکرارڅخه مخ نیوی وشی نوځکه دا ضرور ده چې :

ددې لپاره چې دټولنې راتلونکې اسلامي اوداسلامي خاورې دساتلو ، ترقی اوانسانیت تګ لاره په علمي اوحقیقي ډول سره تعین اووپیژنو باید دټولنې په تیرشوي تاریخ باندې هغسې پوه شو لکه څنګه چې په واقعیت او حقیقت کې ؤ اودی .

ذکرشویو ډلو دمحمد ظاهرد ټولواکی په زمانه کې دروسانو سفارت له لارې ددولتي بورسونو (چانسونو) په نوم یو شمیر غړې په منظم ډول سره روسیې ته دتحصیل لپاره لیږل چې په ظاهره به یې دعلومو په یوه څانګه کې تحصیلات پرمخ بیول اما په واقعیت کې د« کی ، جی ، بی » ترخطر ناکې ښوونې اوروزنې لاندې نیول کیدل په په نتیجه کې یې زموږاسلامي خاوره اوجنت نشان وطن د« کی ، جی ، بی »په جلادانو ډك کړ.

دبریژنف په دوره کې په وروسته پاتې ساتل شویو هیوادو نو کې دروسانو استعماري نفوذ اوتسلط طریقې داسې ښه غوره کړه چې په دغو هیوادونو کې باید کودتاګانو ته سازمان ورکړل شي او وروسته په سیاسي ، اقتصادي ، ایدیالوژیکي اوټولنیزوساحو کې ترهغو پورې نفوذ وشي ترڅو چې په بشپړ ډول سره یې ترخپل تسلط اواقتدارلاندې راولي په رښتیا چې دادنوي استعماریله خطرناکه څیره وه اوده .

ځلورمه برخه:

څرنګه چې دمحمد ظاهراومحمد داؤد په اردو کې دپښتنو افسرانو شمیرنسبت نورو ملیتونو ته زیات ؤ په ابتدا کې « کی ، جی ، بی » خلقیان په دې وګمارل چې باید په پټه اوخورا احتیاط سره په اردو کې جلب اوجذب پیل کړي اوپرچمیانو ته یې په دې اړوند داسې دستور ورکړچې په اردو کې جلب اوجذب په هغومره احتیاط اوزرنګی سره باید اجراشي چې په هیڅ صورت افشا نشي اودپرچمیانو زیاته توجه باید دکورنیو چارو وزارت په اړوند صورت ونیسي.

نوربیا

دقوماندانانو دسرتاسري شورا ...

دمجاهدینو په نظامی وضعه کې تغیرات راغلی چی یو شمیر یې دلته په ګوته کوو:

-دژنیو دمعاهدی دلاسلیك کیدو څخه وروسته په ځانګړی توګه په پاکستان کې دپیپلزګوند دحکومت په رامنځ ته کیدو سره له مجاهدینو سره په مرستو کې پوره کموالی راغلی .

-دایران په موقف کې بدلون؛ ایران هم اوس له روسیی اوهغه دمزدوررژیم سره دوستی پیل کړیده .

-ځنی جهادی مشران چې دروسانو دموجودیت په وخت کې یې په جهادی فعالیتونو کې برخه اخیستله خودروسانو له وتلو څخه راوروسته دقدرت نیولو لپاره په پټو اوښکاره هلو ځلو اخته دی ، په جهاد کې یې برخه اخیستنه بیخی کمه شوی ده .

-دخلیج جګړی هم دمجاهدینو په نظامی وضع څه ناڅه تأثیرکړی ځکه هغه مرستې چې داسلامی هیوادونو له خوا مجاهدینو سره کیدلی په ټپه ودریدلی -له افغانستان څخه دروسانو ترتښتیدلو وروسته له مجاهدینو سره دنړیوالو دمرستو کموالی.ځکه چې ددوی خو هدف دروسانو وتل ؤ نه په افغانستان کې داسلامی حکومت جوړیدل .

پوښتنه :- دمزدوررژیم اوسنی سیاسي وضع څنګه ارزیابی کوی ؟

ځواب :- دغربی راډیوګانو داتبلیغات چې نجیب په سیاسی ډګر کې څه ناڅه پرمختګ کړی او په دی برخه کی له ایران سره دهغه داړیکو دښه والی او پاکستان ته داړیکو دښه کولو وړاندیز مسٔله مثال راوړی غلط او بی ځایه دی دروسانو دمزدور رژیم سیاسی وضعه ډیره خرابه ده ځکه چې روسان هم نور مرسته ورسره نشی کولی هغوی اوس پخپله له یوستر اقتصادی او سیاسی بحران سره مخامخ دی نو له خپل مزدور رژیم سره به څه ډول مرستو ته دوام ورکړی .

پوښتنه :- پر خوست باندی دمجاهدینو داوسنی حملی په باب که څه معلومات راکړی .

ځواب :- مجاهدینو پرخوست باندی دیوی پراخی حملی لپاره تیاری نیولی دی -فتحه او بری دالله (ج) په لاس کې دی .دخوست ښار خوله ډیری مودی راهیسی دمجاهدینو تر محاصری لاندی دی اوس مجاهدین غواړی دغه دمحاصری کړیه نوره هم پسی تنګه کړی ترڅو هغوی مجاهدینو ته په تسلیمیدو مجبورشی.

ترکومه چې خبره په خوست باندی داوسنی حملی او عملیاتو پوری اړه لری اوس دغلته مجاهدین شپږ شوراګانی لری او دغه شوراګانی په خپل راس کی یوه لویه نظامی شورا لری چی (۲۹) تنه غړی لری او ټول جنګی پلان دهمدغه شورا په لاس کی دی دلویی شورا دغړیو له جملی څخه اووه تنه دغه عملیات اداره کوی .

پوښتنه :- دقوماندانانو دشورا دنوو فعالیتونو په برخه کی معلومات راکړی .

ځواب :- دقوماندانانو دشورا کاراوفعالیت په بری سره پرمخ روان دی .

دمثال په توګه دخوست داوسنیو عملیاتو لپاره هم کیدای شی دقوماندانانو دشورا یو هیئت راشی په غزنی اوقندهار باندی هم دیوی ستری حملی کولو لپاره دیو عمومی پلان په جوړو لو بوخت دی دغسی په کابل باندی هم دیوی لویی اوعمومی حملی پلان ترلاس لاندی دی ، چی البته داکار به په مناسب وخت کی چی موسم مساعدشی عملی او ترسره شی ، اوس دقوماندانانو شورا داهلی ځلی کوی چی په کابل ترحملی دمخه باید داکمالاتو لاری چاری هم برابری شی ، دنورو سیمو مجاهدین باید په کابل باندی دحملی لپاره په مناسب وخت کی دعملیاتو لپاره دقوماندی واحده اداره جوړه شی دمخه بایدجهادی مشرانو سره په مصلحت اومشوره داسی یوه اداره اواتفاقی تشکیل جوړه شی چی دنجیب درژیم له زوال اونسکوریدوڅخه وروسته حالات په قابو کنترول کی راولی ترڅو دکابل له فتحی څخه وروسته دمجاهدینو ترمنځ او دغسی دعامه اوسیدونکو ترمنځ شخړی اولانجی مینځ ته رانه شی .

یعنی دکابل ترفتحه کیدو دمخه باید دهری چاری دسمبالولو اوکنترول کولو لپاره مسوولین وټاکل شی ترڅو دناوړه پیښو اوګډوډیو مخه ونیول شی او ستونزی اومشکلات رامخ ته نه شی ، نو دقوماندانانو شورا اوس ددغه لارو چارو دتنظیم ترتیب اودخپل منځی شخړو دله منځه وړلو اوپه ټول هیواد کی پردښمن باندی د هماهنګو عملیاتودپلان جوړولو لپاره په کاراوفعالیت بوخته ده.

> دکابل ترفتحه کیدو دمخه باید دهري چاري دسمبالولو اوکنترول کولو لپاره مسوولین وټاکل شي

پوښتنه :- په پای کی که په عامه توګه دنړی مسلمانانو ته اوپه خاص ډول دافغانستان مجاهدینو ته څه پیغام لری .

ځواب :- په عامه توګه دټولی نړی مسلمانانو ته زما پیغام دادی لکه څنګه چی یی دمخه دافغانستان دجهاد ننګه اوملاتړکړی ،اوس دی هم هماغسی خپلی ننګی اوملاتړته ادامه ورکړی ځکه اوس هم دخدای په کتاب اواجتماع دامت مسلمه له مخی دملحدینو سره هماغه شان جهاد فرض دی لکه چی دمخه فرض ؤ اوس هم باید ورسره دټولی نړی مسلمانان دپخواپه شان دلچسپی ولری او که دچا دمال له لاری په وس پوری وی اوکه دقلم اوژبی له لاری په دی جهاد کی برخه واخلی مرسته اوملاتړیی وکړی .

بله مهمه خبره داده چی مسلمانان باید په هروخت اوحالت کی خپل اسلامی مسوولیت اومکلفیت وپیژنی اوترهغه دی دریغ نه نیسی چی په یو مسٔله کی یی داسلامی شریعت حکم نه وی پیژندلی ، لکه څنګه چی څو ورځی دمخه دنړی ډیر مسلمانان په یو سیاسی جال کی راګیر شوی وو اودخلیج په موضوع کی تیروتی وو اوځینو خلکو داسی قضاوت کاوه چی صدام په حقه باندی دی ، هغه یو مجاهد دی ددی کار لپاره یی په مظاهرو لاس پوری کړ ، دهغوی لپاره یی دپیسو اواعانو په راجمع کولو شروع کړی وه مثلاً داکوم ظلم چی په دی څلویښت یا زیات اوکمو ورځو جنګ دبمباری له امله امریکا په عراق یا عراق په کویټ باندی دحملی په وخت کی کړی له دی نه خو روسانو اوملحدو کمونستانو په دی تیرو دوولسو کلونو کی دافغانستان په مجاهد ملت څوچنده زیات ظلمونه اوبمباری کړی دوی هغه وخت ولی داسی مظاهری نه کولی ، ولی یی افغانانو ته وینی نه جمع کولی موږخو نه په ایران کی مظاهره ولیده اونه په پاکستان کی که ددوی هغه وخت وسه نه کیدله ، دروس له ویری یی مظاهری نه شوی کولی، اوغلی ناست ؤ نواوس هم باید غلی ناست وای که له صدام سره ددغو خلکو ملاتړسیاسی نه وای اوشرعی وای نواوس خو صدام مغلوب شو ، وطن یی هم وران شو اقتصادی بندیزهم پری لګیدلی دی داخود هغه بمباری نه هم لاپسی سخت دی اوس ولی دغه خلك دهغه ملاتړنه کوی نو ددی نه دامعلومیږی چی دوی په یو سیاسی جال کی راګیرشوی وو،نوپه دغسی سیاسی مسایلو کی دقضاوت لپاره باید مسلمانان دخپل ځان لپاره اسلامی مسوولیت معلوم کړی ، د اسلام حکم وپیژنی اوبیا عمل وکړی .په خاصه توګه مجاهدینو ته زما پیغام دادی چی په دی حساس وخت کی چی زموږ اسلامی انقلاب دبری پولی ته نږدی شوی ، خپل منځی وحدت ته زیاته پاملرنه وکړی ، خپل اسلامی مسوولیت اومکلفیت په ښه توګه درك کړی ، ددښمن په توطئواو دسیسو تیرنه وځی اوترهغی خپل وسله وال جهاد ته ادامه ورکړی چی په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس یواسلامی حکومت جوړاوداِلحاد اوفساد جرړی له بیخه ووځی . والسلام

خوست دبشپړې فتحې په درشل کې ...

وحدت اساسی اوبنستیز اصل تشکیلوی اوهیله ده چی دغه ډول یو مخیز اوکوټلی عملیات په هیواد کی دټولو جهادی ځواکونو دوحدت اوهم اهنگی لاره نوره هم لنډه اواواره کړی .

درارسیدلو خبرنو له مخی مجاهدینو دخوست زورهوایی ډگرفتحه کړی اواوس هغه میدان د مجاهدینو دزرهی قواو په واك کی دی ، دخوست دکلابندو پوځی قواو شاوخوا لس پوستی مجاهدینو فتحه کړی او دنورو خبرونو له مخی دباك اویعقوبیو علاقداری هم فتحه شوی اودکوکرك دمرسوق الجیشی پوسته چی دخوست دکلابند پوځونوپه تیره دهوایی ډگر له پاره یی حیاتی اهمیت درلود هم مجاهدینو فتحه کړیده اودتوپچی ٦ غونډ مجاهدینو ته تسلیم شوی دی .

دوضعی اوحالاتو له کتنی څخه څرگندیږی چی دمجاهدینو بریدونه بریالی پرمخ روان دی اوامید دی چی په ډیر نژدی کی به خوست دمجاهدینو په لاس په بشپړه توگه فتحه شی .

مجاهدینو دکابل دمزدوررژیم پوځونو اوملیشاوو ته اعلان کړی چی له جگړی څخه لاس واخلی اوله مجاهدینو سره یو ځای شی پدی صورت کی ورته مجاهدینو دسراومال دمصئونیت اعلان کړی له همدی امله تراوسه گڼ شمیر پوځیان مجاهدینو ته تسلیم شوی دی .

له بلی خوا دکابل مزدور رژیم دمجاهدینو ددغه ډول سرتاسری بریدونو له ویری یوځل بیا دنویو مانورو اوتوطئو لمنی ته لاس اچولی اودروژی میاشتی په عنوان کولو یی داوربند غوښتنه کړی خومجاهدینو په یوه اوازددوی داغوښتنه رد کړی اودروژی مبارکه میاشت کی چی دجهاد اونصرت بختوره میاشت ده خپلو بریدونو اوعملیاتو ته لا پراختیا ورکړیده .

پر خوست بریالیو عملیاتو دکابل گوډاگی رژیم داسی وارخطا کړی چی مزدورنجیب ورمه ورځ دخپل پلورل شوی پوځ هوایی اوځمکنی لوړتبه افسران اوجنرالان راغونډ کړل اودخوست دسقوط دمخنیوی په اړه یی دهغوی داقداماتو غوښتنه وکړه همدارنگه دگوډاگی رژیم دخارجه وزیر دملگروملتونو سرمنشی ته پیغام استولی اوله هغه څخه یی پدی هکله دمداخلی غوښتنه کړی . کتونکی عقیده څرگندوی چی دکابل گوډاگی رژیم اوپوځ نورددی توان اوحوصله نلری چی دمجاهدینو دداسی یو مخیز اوسرتاسری عملیاتو اوبریدونو په وړاندی مقاومت ته زړه ښه کړی .

ددغوکربنو ترلیکلو پوری خبرونه وایی چی مجاهدین په ډیره چټکتیا سره دخوست زاړه ښارته ننوتلی اوددښمن ماتی خوړلی پوځ دمجاهدینو دمخنیوی په لارکی له ناکامی سره مخامخ شویدی ځکه خو دمجاهدینو دوروستی بری اوستری فتحی شیبی مخ په نژدی کیدو دی اوهغه ورځ رارسیدونکی ده چی دخوست فتحه دکابل دفتحی دپیلامې توگه دیولوی اوتاریخی پړاو په عنوان دالارخپل اخری سرمنزل ته ورسوی . انشاالله

دبغلان ولایت مجاهدینو دیوکمین په ترځ کې دکابل رژیم (۸٦) تنه افراد ژوبل اووژلی

بغلان ،میډیا .

دبغلان څخه دیوه راډیویی پیغام په حواله خبر ورکړشوی چی مجاهدینو دبغلان ولایت دپلخمری دلویدیځی برخی (۱۲) کیلومتری کی ددهنه غوری د(جری نو) په سیمه کی دکمین په نیولو سره دکمونست رژیم یوټانك د(٦)تنو (کیانی) ملیشه ؤ سر له مینځه وړی (۸۰) تنه یی سخت ژوبل کړی او (۱۲) نوریی بندیان نیولی دی .

دخبرځای مطابق مجاهدینو په دغه بریالی برید کی یوپیکا ماشیندار (٤) میله سپکی ماشینداری ، (٦) کلشینکوفونه او (۳۰) صندوقه گولی اوزیات اندازه مهمات په غنیمت نیولی اوددوی سنگرونه یی ویجاړ کړیدی . پدی نښته کی یوتن مجاهد هم شهید شویدی .

دخبرځای په قول مجاهدینو ددغی جگړی نه دوه ورځی وروسته دکابل حیرتان لویه لاره دپلخمری په لویدیځ دباغ شمال لیسی ته نږدی په (۹) ساعته جگړه کی پدی خاطر بنده کړه چی رژیم غوښتل دمزارشریف نوی په زور نیول شوی ملیشه د (تورسون) په نوم دکندهار ولایت ته دملیشه ؤ مرستی ته واستوی خوداوړدی جگړی وروسته کاروان په شاه تمبول شوی او هم زیات مالی اوځانی نقصان یی ورته اړولی دی . یوتن عینی شاهد وایی چی دکمونست رژیم جیټ الوتکو دمجاهدینو څخه دغچ اخستلو لپاره د(دهنه غوری) علاقه داری په مرکز سختی بمباری کړی چی پکی یوشمیر ودانی ړنگی اومالی زیان اوړیدلی دی .

دعراق رژیم دبصرې پرخلکو دناپالم له بمونو څخه کاراخیستی دی

امریکی یوځل بیا دعراق رژیم ته خبرداری ورکړچی که چیری دهغه هیواد دناکراریو دچوپولو لپاره دکیمیاوی وسلو څخه کاروا خلی نودامریکی هوایی پوځونه به دعراق پوځی اډی تربمبارد لاندی ونیسی .

دامریکی دغه خبرداری هغه وخت عراق ته ورکړل شو چی عراقی پوځونو دبصرې په ښارکی دکردانو دپاڅون په مقابل کی له ډیرو بی رحمانه حملوڅخه کارواخیست چی لدی امله د(۵۰۰) څخه زیات کسان وژل شوی اویا زخمی شویدی .

دایران راډیو ویلی دی چی دصدام حسین پلویان دبصری څه بی دفاع خلکو دناپالم اوروروکوونکی بمونه اوروی چی زیات شمیر خلك په شهادت رسیدلی دی .

دایران راډیو څرگنده کړی ده چی ددی پیښو په سلگونو تنه قربانیان پداسی حال کی چی په بدن کی یی دسوځیدو علامی لیدلی کیږی دایران سرحدی ښارونو ته تښتی چی شمیر یی مخ په زیاتیدو دی .

په فارياب کی دکابل رژیم (۲) پوستی فتحه شوی

فاریاب ،میډیا:

دبغلان څخه دراډیویی پیغام په حواله (میډیا) ته رپوټ ورکړ شوی چی مجاهدینو دحوت دمیاشتی په (۲۳) نیټه دفاریاب ولایت دشیرین تگاب دولسوالی مربوط په جمعه بازارکی دملیشه ؤ په قرارگاه اوپرتو پوستو تعرضی برید وکړچی په دغه بریدکی درژیم دملیشه ؤ (۲)پوستی فتح شوی دی.

رپوټ وایی چی په دغه بریدکی درژیم ملیشه ؤ ته د درندو ځانی تلفاتو داوړیدلو برسیره (۸) تنه ملیشه ژوندی نیول شوی او یوشمیر درندی اوسپکی وسلی دیوی اندازی مهماتو سره ولجه شوی دی . په رپوټ کی زیاته شوی :چی مجاهدینو په دغه برید کی یوغښتلی قوماندان شیرعلی شهید او(۷) تنه نورټپیان شوی دی . دربوټ مطابق ددواړو خواو ترمینځ جگړه په سختی سره روانه ده .

امریکاعراق مجبوروي ...

دملگروملتودامنیت شورا دهغه پریکړه لیك دمسودي محتویات څرگند کړیدي چي دامریکا دمتحدو ایالاتو له خواپه خلیج کي ددایمي اوربند دټینگیدو په اړه وړاندي شوي وو .

دپریکړه لیك په مسوده کي ټینگاراوغوښتنه شویده چي دعراق دتوغندیو ټول سیستمونه اوټولي تخریبي وسلي له منځه یوړلي شي اودعـراق داوږدي مـودي دراتلونکو پلټنو په ارتباط چي بایـد داډول وسلـي هیڅکله بیا جوړي نکړي خپل پلان وړاندي کړي دي . دغه راز په پریکړه لیك کي په عراق باندي غږ.شویدي چي دخپلو تیلو یوه اندازه غیرمعین عاید په یوه خاص وجهي صندوق کي کیږدي ترڅو چي دجگړي خساره ور کړي شي څه وخت چي دغه پریکړه لیك منظورشي دعراق پرضد دخوراکي موادو بندیز به ژرترژره لیري کړي شي

ولسوالی تولك ولایت غوردرمحاصره مجاهدین

غور، میدیا :

بگزارش یك منبع جهادی ، مجاهدین بتاریخ سوم حوت ، موفق به محاصره کامل ولسوالی تولك درولایت غورگردیدند .

خبرحاکیست که مجاهدین مشترکا قوای نظامی رژیم ملحد راازپوسته های اطراف ولسوالی تولك بداخل ان شهرقرارداده ، مواضع سابقه ان ها راتصرف واکنون تمام مناطق اطراف ولسوالی تولك رادرمحاصره قرارداده اند .

درخبرامده است که مجاهدین باازبین بردن مرکز عمومی مخابره رژیم کابل درشهر تولك که باانداخت راکتهای مین دار صورت گرفته است ، ارتباط مخابروی قوای رژیم راباسایر شبکه های ارتباطی ان قطع نموده است .

دهیئت تحریر ترنظر لاندي

مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۳۳)

یونیورستي ټاون پیښور

تیلفون : ... (٤۱۷٤٦)

کابینه بیگم خالده ضیا حلف وفاداری یادکرد

کابینه جدید بنگه دیش بریاست بیگم خالده ضیا درمرکز انکشور حلف وفاداری یاد کرد.

بیگم خالده ضیا که درانتخابات ازاد بنگله دیش اکثریت کرسی پارلمان را بخود اختصاص داده با ائتلاف با حزب جماعت اسلامی موقعیت خویش را تحکیم نموده است ازسال ۱۹۷۰ که کشور بنگله دیش تشکیل گردید این اولین انتخابات وانتقال قدرت به شیوه دموکراتیك درانکشور میباشد.

درکابینه ۳۲ نفری خالده ضیا عهده وزارت خارجه بدست یك ارتشی متقاعد بوده وخانم ضیا نیز بر علاوه کرسی صدارت مسوولیت چاروزارت خانه رانیز بدوش دارد .

خانم خالده ضیا که نخستین صدراعظم زن دربنگله دیش میباشد بعد از حلف وفاداری وعده داد که بخاطر بهبودی اقتصاد وتحکیم نظم و امنیت وقانونیت دربنگله دیش مساعی بخرچ خواهد داد .

هندی پوځیانو دکشمیری ښځو په ناموس تجاوز کوی

دهند صدراعظم چندرا شیکر ژمنه کړیده چی دهند تر اشغال لاندی کشمیر کی دښځو دبی عزته کیدو په اړه دتحقیق لپاره هیأت واستوی ، دکشمیر پخوانی اعلی وزیر فاروق عبدالله وویل صدراعظم ده ته اطمینان ورکړی چی تورن کسان به په سزاورسیږی .

دهند صدراعظم دااطمینان په داسی وخت کی ورکړ چی دکشمیر مسلمانانو ددغه عمل پرضد یو عمومی اعتصاب

رابللی دی دکشمیر اوسیدونکی وایی چی تیره میاشت هندی پوځیانو دکشمیر په یوه سیمه کی څلویست ښځی بی عزته کړی .

پوځ ددغه عمل څخه منکردی خو دکشمیر په مرکز کی یو مامور وویل چی تحقیقات کوونکو داخبره کشف کړیده چی دکشمیر پدغه سیمه کی ډیری ښځی بی عزته شویدی .

دخوست زورهوايي ډگر اودکوکرك سوق الجيشي ...

دکشف عمله پکې سوره وه له منځه ولاړ .

دعملیاتو په څلورمه ورځ د(حوت ۲٦) مجاهدینو دبیرغ ، لکي سر ، جگه ، قوماندان ، شلکا ، لویه قرارگاه ، ټانك پوسته په نومونو ددښمن پوځي مرکزونه فتحه کړل ، ددغو عملیاتو په جریان کي ددښمن له قواؤ څخه ٤٥ تنه عسکر اوپنځه صاحب منصبان وژل شوي ددښمن یو ټانك ددرنو وسلو دډزو په وسیله تخریب شو.

دعملیاتو په پنځمه ورځ د(حوت ۲۷)مجاهدینو دفارم باغ دقرارگاه په شمول دپاشم ټاپوگان فتحه کړل ددښمن یو ټانك اوزرهپوش اوډول ډول درني اوسپکي وسلي مجاهدینو په غنیمت ونیولي .

دعملیاتو په شپږمه ورځ (دحوت ۲۸) مجاهدینو دشمل په خوړ وربوري وتل هوايي ډگر اوشپږم لمبر توپچي غنډیې فتحه کړ.

په اوومه ورځ (دحوت ۲۹) مجاهدینو دباك اویعقوبي په علاقه داریو عملیات وکړل چي په نتیجه کي دنوموړو علاقداریو په شمول دکیکرك قرارگاه اومربوط پوستي ټولي فتحه شوي ، په همدغه ورځ مجاهدینو ددښمن شپږ نوري پوستي هم فتحه کړي .

ددښمن دوه ټانکونه تخریب اوتیل خاني قرارگاه اوکوکړ قرارگاه فتحه شوي .

دعملیاتو په اتمه ورځ (دحمل ۱) دخوست دښار په ختیځ استقامت مجاهدینو دغتهه توله ، غنډي ، گورگوري ، جوکي په نامه ددښمن څلورپوستي فتحه کړي په همدغه ورځ مجاهدینو دفرخاره پوستي په گډون ددښمن دري نوري پوستي هم فتحه کړي .

ددغو عملیاتو په جریان کي مجاهدینو یو ټانك ، یوه زیرکي ، یو صحرایي توپ اوڅلورموټر په غنیمت نیولي ،څلورتنه افسران اوشل تنه عسکرمجاهدینو نیولي دي ، په همدغه ورځ دجنوب لویدیځ په استقامت دمست میرخان ، کوتاخ ، کرړ، پیرسیگل ، په نومونو ددښمن څلورپوستي فتحه شوي ، یو ټانك تخریب او دولس تنه ملیشه ووژل شول مجاهدینو ډیري وسلي په غنیمت نیولي دي.دعملیاتو په نهمه ورځ (دحمل ۲) ددښمن له قواؤ څخه پنځه لس تنه افراد له خپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شویدي .

دعملیاتو په لسمه شپه (دحمل ۳) دمجاهدینو دکمکي توري غاړي په استقامت دسیل خاني په سیمه کي ددښمن پنځه پوستي اویوه قرارگاه فتحه کړه .

عملیات په بریالیتوب سره جریان لري اوددښمن پوځي مرکزونه اوپوستي یوه په بل پسي فتحه کیږي ، ددښمن له قواوو څخه دعسکرو اوصاحب منصباتو دتیښتي او مجاهدینو ته دپناه راوړلو لړۍ روانه ده .

دیو رارسیدلي خبرله مخي دخوست دفرقي قوماندان برید جنرال محمد علي دتیري پنجشنبي ورځي راهیسي بي درکه دي .

خبرزیاتوي چي دخوست له ښارڅخه دکډوالو بهیررامات دي اوتراوسه په سلگونو کورنۍ میرانشاه ته رارسیدلي دي او نورپه لاري دي .

دکابل رژیم دمجاهدینو دپرله پسي بریـو اوفتحوڅخه دوارخطايي له کبله په ٢٤ ساعتو کي ۳۵ سکډ توغندي دخوست پرجهادي سنگرونو ویشتلي دي